مصطفی پسرلی

۲۰۱۹/۰۸/۱۹

# غزل

**وريت وجود دی، درمانونه دي ناهيلي**
**د بقا ټول ارمانونه دي ناهيلي**

**رباب ګونګ نه دی خو سُر يي دی بې سُره**
**د مطرب ټول آوازونه دي ناهيلي**

**غم ژړا ده د خندا څه پته نشته**
**د سکون غوند موسمونه دي ناهيلي**

**د بنې ورځې په ارمان مې ورور وژلی**
**د بنې ورځې اوميدونه دي ناهيلي**

**تر جنونه پورې سوله، سوله غواړو**
**خو د سولې باورونه دي ناهيلي**

**پسرلېه! مینه هر لوري خرڅيږي**
**د عزت ټول عنوانونه دي ناهيلي**

مصطفی پسرلی
18/08/2019


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ